# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد*

*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|


بســــــــــــــمل

۱۱/۰۱/۲۶

## جعلکار له جعلکارانو سره مل شو





د "دریمي سقاوي" سالارجعلکار(حامد کرزي) خو تر تېرې اونۍ پورې له جنګي جنایتکارانو اوجعلکارانو سره تر کاسه لاندي لوبه کوله خو اوس دا دی په ډګر ورسره مل شو .

په خواشیني سره بایدولیکم چي زموږ په کړېدلي اوبېګناه ولس تپل شوی (حامد کرزی) بـه سباته دافغان ولس دغرغړي رسی دافغانستان دښمنانو(جنګ سالارو وکیلانو) ته په رسمي ډول سره په لاس ورکړي .

سبا به هغه توره ورځ وي چي دهېوادکم اوزیات دېرشومېلیونو وګړو ته به داسي توري ورځي ورپه برخه کړي چي هم به زموږ پنځه زره کلن تاریخ پکې تت او محوه شي او هم به زموږ ګران افغانستان لکه ونــډی په ځو برخو ووېشي .

زموږ ورونه قومونه به دیو ځو پلورل شوو کسانو له لاسه یو بل ته مرچلي ونیسي جګړه به یو بل حالت اختیار کړي لا ډېرې نورې ویني به توېه اوکورنی بحران به اوج ته ورسیږي .

ځومره چي قرباني شي هغه خو به وي تللي دادنورو دبقأ په پلمه به جعلکار حامدکرزی له خپل جعلکار پارلمان سره یو ځای دافغانستان د تجزیي پربکړه وکړي .
د"دریمي سقاوي" سالار(حامد کرزی) د"افغانستانیانو" دلاس یوه داسي خطرناکه وسیله ده چي نه تنها افغانستان به ګړنګ ته وروغورځوي بلکي په سیمه کي به دده دبي کیفایتي له کبله جګړه زور واخلي .
زموږ خلګ له کونګ ځخه ډېره بده مني وایي په کوم کلي چي کونګ کښیني بیاهغه کلی نه پاته کیږي حتمأ هغه کلی نړیږي دا حامد کرزی کټ مټ دکونګ په شان دی زه ځکه وېرېږم چي افغانستان به راته ونړوي .
زما په اند به دا نوی ایرانی پارلمان دعامه ذهنیت داړولو په ځانګړي ډول دپښتنو دغولولو لپاره دپارلمان؟؟ مشر سیاف او یا یاسیني وټاکي خوکه "افغانستانیان" خپل ځان ډېر ځواکمن احساس کړي بیا به پخپله خوښه دستمیانو له ډلي ځخه یو وټاکي .
دنوي پارلمان له لمرنیو چاروځخه به داوي چي د خپل ځان په شان جنګي جنایتکارانو ته دلا ډېرو امتیازاتو غوښتنه وکړي بیا به د حامدکرزي په کابینه کي هغه کسان ومني چي لاد مخه خپلو بادارانوورته ښوولي دي .
ټول وزارتونه په ځانګړي ډول دکانونو وزارت به زموږ اوتاسودپلار اونیکه هډوکي مزایدو ته وړاندي اودنوي ((پردي پارلمان ))لخوا به هغه قراردادونه ومنل شي چي ددوی دبادارانو په ګټه وي .
لکه داخل چي د"دریمي سقاوي" سالار(حامدکرزي)دسترې محکمي په پلمه خپل ځان ته براعت ورکړ هلته به بیا داهرڅه په نوي پارلمان وراچوي .
ظاهرأ خوبه د مقننه او اجرایه قوې ترمینځ کش مکش روان وي خو په حقیقت کي به دا دواړه قواوي له قضایه قوې سره په ګډ مصلحت زموږ دتاریخي هېواد زنه وروتړي .
زموږ کورني دښمنان به د رابرټ بلک ویل ، هولبروک اوکالبریت خوبونه په رښتیا واړوي په پښتون مېشتو ختیځو، لویدیځواو سهیلي سیمو کي به د طالب ځپلو په پلمه دا پاته کلي او زراعت هم تباه کړي، په شمالي برخوکي به داربکیانوپه وسیله دپښتونو جنازې بارکړي انجام به دافغانستان تجزیه او دتل لپاره ناقراري وي .
که موږ او تاسي له خدای (ج) ځخه ووېرېږو او رښتیا ووایونه خو دغه تېر پارلمان د خدای په لار روان و او نه ضرورت وه ورته او نه خو دافغانستان د واقعیتونو له مخي دانوي تحمیلي اوپردي پارلمان ته اړه شته.
که حامد کرزی ګرېوان ته سر ټیټ اوله دي تاریخي بدنامي ځخه دځان خلاصون غواړي نو ژر تر ژره دې استعفأ وکړي اویا دې کوم بهرني هېواد ته سیاسي پناه ویسي هغه متل دی وایي دنر یاخرپ دی یا ترپ .
دادی موږ ټول یې په سترګو وینو چي روس،امریکا، ملګري ملتونه او زموږ نور یوڅودښمن ګاونډي هیوادونه په حامد کرزي دا جعلي او نامشروع پارلمان مني نو آیا کرزی باید هرڅه ومني؟
که له کرزي سره دیادومغرضو هېوادونو زور نه وي نودومره خوکولای شي چي استعفأ وکړي خو نه داهرڅه د "دریمي سقاوي" سالار (حامد کرزي ) ورسره منلي دي کرزی دافغانستان تاریخ او ولس ته پړ دی .

له افغانانو ځخه زما جــــــدي هیـــــله :

له ټولوافغانـانودکینو، ښـیبواونورومذهبي ګوندونو لـه صـفوفو، ټولـو فرهنګي او ټولنیزو ټولنـو اوکړیـو څخـه هیلـه کـوم چې دګران افغانـستان دنجات اوبقاء لپاره متې را بډ وهي اوکـه نـه دیوڅـو جاسوسـانو لـه لاسـه بـه زمونږ

تاریخي هېوادونړیږي همداراز دنوي (جعلي پارلمان) په مینځ کې لـه هغو یو څوکسانوڅخه چې پـه رښتینولي سره بریالي شوي وي هیله کوم چې زما په لیکنه خوابدي نه شي زه هغوی ته دعا کوم چې په یو داسې نوښت بریالي شي چې ګران هېواد پرې وژغورلای شي .